(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نهم ټولګي د تاريخ

## لیک لړ

**لومړی څپرکی: داحمدشاه بابا د واک ته رسېدو نه وړاندې د افغانستان اقتصادي، ټولنيزه او سياسي اوضاع 1-8**

- سياسي لاملونه
- ټولنيز شرايط
- اقتصادي حالت

**دويم څپرکی: د افغانستان پېښې له ۱۷۴۷ ز نه تر ۱۸۷۹ ز کال پورې 9-44**

- احمدشاه بابا څنګه يوځل بيا افغانستان را ژوندی کړ.
- اداري اصلاحات او نظامي فعاليتونه.
- د احمدشاه بابا نيک خصلتونه.
- د تيمورشاه شل کلنه واکمني.
- د شاه زمان کورنی او بهرنی کړنلارې.
- شاه محمود لومړی ځل څنګه واک ته ورسېد.
- د شاه شجاع د لومړي ځل واکمني.
- د شاه محمود د دويمې واکمنی څرنګوالی.
- ايا د امير دوست محمد خان د لومړي ځل واکمنی سره بلد تيا لرئ.
- د انګريزانو يرغل پر افغانستان
- د شاه شجاع د حکومت څرنګوالی په دوهم ځل
- د امير دوست محمد خان د دويم ځل واکمني.
- د امير شيرعلي خان شخصيت او د نومورې اداري ستونزې.
- د امير محمد افضل خان لنډه واکمني.
- د امير محمداعظم خان واکمني.
- د امير شيرعلي خان د دويمې دورې د رغاونې او پرمختيايي تګلاره.
- پر افغانستان باندې د انګريزانو دو يم تيری

## د احمدشاه بابا واک ته د رسېدو په وخت کې د هېواد ټولنیز وضعیت څنګه و؟



په تېر لوست کې د احمدشاه بابا **څخه وړاندې** د سیاسي شرایطو جزئیاتو ته اشاره وشوه، په اوسني بحث کې د احمدشاه بابا **د واک تر رسېدو** ټولنیز حالت تر بحث لاندې نیسو.

د **شیباني**، **صفوي** او **بابري** یرغلګرو څواکونو د ولکې په پایله کې  د هېواد مرکزي دولت، سوداګري او کرنه له لاسه ورکړه. د **هرات** مکتب نور په دې باندې نه توانېده چې د ادب او صنعت کار مخ ته بوځي. د لښکر ایستلو لړښتونه د دې خاورې پر خلکو باندې تېل کېدل. حاکمانو او افسرانو په پوځي کلاوو کې سوکاله ژوند درلوده. پوځي لښکرو نه د ښار په د ننه عسکري بارکو کې ځای په ځای وو. ښنه او ښېرازه ځرځایونه وسله والو ځواکونو ته ځانګړي شوي وو او پوځیانو د خپلو ستوماني لرې کولو لپاره د تفریح ځایونو او بڼونو څخه ګټه پورته کوله.

پورتنیو مسایلو ته په پام سره زموږ هېواد مرکزي حکومت نه درلود. د اوبو لګولو سیستمونه او بندونه چې پخوا موجود و د پرله پسې جګړو په پایله کې وران او له مینځه ولاړل. په دې حالاتو کې جدي خطر زموږ خاوره ګواښله.

په هېواد کې د زیاترو خلکو بوختیا **کرنه او مالداري** وه. د شنو دښتو شتون، د څارویو روزنه او زیاتوالی هڅاوه. د مالدارۍ کسب په هغه مهال کې د ټولنیزو کسبونو یوه مهمه برخه جوړوله. د څارویو په روزنه کې ځانګړې پاملرنه اس، اوښ او غوا ته کېده. دا څاروي د ډېر شهرت لرونکي وو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

تېغه تېر کړ. مبارزينو په دويمه ورځ د انګرېزانو په نورو کلاګانو باندې چې د کابل په ښار کې وې يرغل وکړ. په دې اړو دوړ کې د جهاد غړ د کابل **شېر کروهی** ته ورسېده او خلکو ډله ډله په دې ملي جهاد کې ګډون وکړ. له نېکه مرغه چې **سردار وزير محمداکبر خان** کابل ته راغی او د نواب زمان خان په ځای يې د جهاد مشري په لاس کې واخيسته. انګرېزانو چې خپل حالت ستونزمن وليده له سردار محمد اکبر خان سره خبرو اترو ته کښېناستل، انګرېزانو غوښتل چې په دې خبرو کې سردار محمد اکبر خان ووژني، خو محمد اکبر خان له فرصت نه په ګټه پر مکناټن يرغل وکړ او د تفنګچې په ډز يې وواژه.



وزير اکبر خان

د جګړې په ترځ کې ډېر شمېر انګرېزان ووژل شول او د دوی په خپله وينا له ۱۶۵۰۰ تنو نه يواځې يو کس (**ډاکټر برايډن**) په نيم ژواندي حالت کې **جلال آباد** ته ورسېد او د خپلو لښکرو د تباهی کيسه يې وکړه. انګرېزانو په کابل کې د خپل لښکر له ماتې ځخه وروسته په غچ اخيستو لاس پورې کړ او تازه دمه لښکر يې د يرغل لپاره چمتو کړ.

وزير اکبر خان د کابل په لور د **جنرال پالک** په مشرۍ د انګرېزي ځواکونو له حرکت نه خبر شو او مقابلې ته يې ورودانګل، خو د امير دوست محمد خان له لارښوونې سره يې سم د **تاشقرغان** په لور شاتګ وکړ. د **پالک** او **سيل** ځواکونه له جلال اباد نه کابل ته ننوتل او د خپل د لاسه تللي حيثيت د بيا راګرځولو لپاره يې د کابل **چتې بازار** او ښکلي **ستالف** ته اور واچاوه. ناځاپه د انګرېزانو له ذهنه د افغانستان د نيولو مفکوره ووته. دوست محمد خان يې له بنده ازاد کړ چې افغانستان ته ستون او يوځل بيا د کابل په تخت کښيني. په دې توګه د انګرېزانو د يرغل لمن ټوله شوه. په دې ماتې سره د انګرېزانو حيثيت په ټوله اسيا ان په ټوله نړۍ کې ټيټ شو. د انګرېزانو کابينه بدله شوه او له دې ځخه وروسته انګرېزانو د افغانستان په اړه خپلې کړنلارې ته بدلون ورکړ او تر ډېرې مودې پورې يې زموږ هېواد پر خپل حال پرېښود، په بدل کې يې د افغانانو ستر وياړونه په برخه شول.

### په ټولګي کې فعاليت:

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د شاه شجاع د واک ته رسېدو په ځرنګوالي او دويمه ډله دې د انګرېزانو د ماتې په اړه بحث وکړي او خپل نظرونه دې له نورو ټولګيوالو سره شريک کړي.

### پوښتنې:

۱- انګرېزانو د خپل اوږد مهال شتون په موخه خپل ځواکونه، د افغانستان په کومو سيمو کې مېشت کړل؟
۲- د انګرېزانو پر ضد د افغانانو د ملي پاڅون او خوځښتونو لاملونه کومو مسايلو جوړول؟ روښانه يې کړئ.
۳- په افغانستان کې د انګرېزانو ماتې د انګليسي سياست پوهانو په افکارو کې څه عبرت منځ ته راوړ او په کومو مسايلو يې اعتراف وکړ؟

### د ټولګي نه د باندې فعاليت:

زده کوونکي دې د خپلو مشرانو په مرسته د هغو ملي مبارزينو او غازيانو په اړه چې انګرېزانو ته يې ماتې ورکړې، معلومات ترلاسه کړي او په ټولګي کې دې ولولي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د کابل په ښار کې د نورو کسانو تر سیوري لاندې ژوند کاوه. هغه په ټول هېواد کې د پاچا په توګه پېژندل شوی نه و، نو له دې امله دغه تړون حقوقي ارزښت نه درلود. د همدې تړون په بنسټ **خیبر**، **کورمه**، **پښین** او **سیالکوټ** له افغانستان نه بېل او د **بریتانوي هند** یوه برخه وګرځېده. د افغانستان سیاسي خپلواکي هم له خطر سره مخامخ شوه. انګرېزانو یو کس چې **د سرلویس کیوناري** په نامه یادېده او د ګندمک تړون د لاسلیک کولو پر مهال یې د انګرېزانو استازیتوب کاوه، په کابل کې د انګرېزانو د استازي په توګه وټاکه او د انګرېزانو نور استازي د افغانستان په مهمو ښارونو کې ځای پر ځای شول. د افغانستان خلکو د همدې حال په لیدو سره د یرغلګرو په وړاندې پاڅون وکړ، د کیوناري په کور باندې یې یرغل وروړ او هغه یې وواژه. په همدې توګه یو ځل بیا د افغانستان د نیولو په اړه د یرغلګرو فتنه شنډه شوه. امیر محمد یعقوب



امیر محمد یعقوب خان

خان لومړی خپل ځان په **بالاحصار** کې کلابند کړ وروسته یې د انګرېزانو په لور ور ودانګل خو د انګرېزانو له خوا بندي شو. د مجاهدینو مخکښانو لکه **محمدجان خان وردګ**، **ملا مشک عالم**، **صاحب جان تره کي**، **سردار محمد ایوب خان**، **محمدعثمان خان صافي** او نور په بېلابېلو سیمو کې په تېري کوونکو باندې یرغلونه وکړل. د هغو جګړو له ډلې څخه یوه چې د انګرېزانو لښکر یې ډېر خواشیني کړی وه، **د میوند** جګړه وه. په دې جګړه کې د افغاني ځواکونو مشري د امیر شېرعلي خان د زوی **سردار محمد ایوب خان** په غاړه وه. په ۱۸۸۰ زېږدیز کال د جولای په ۲۷ مه نېټه د میوند په ډګر کې سخته جګړه پېښه شوه چې د مبارزینو په بري او د انګرېزانو په سختې ماتې سره پای ته ورسېده.

په دې مشهوره جګړه کې، چې د انګرېزانو حکومت یې په هند کې ولړزاوه، د افغانانو ښځوهم برخه اخیستې وه. پېغلې **ملالۍ** د میوند د جګړې په ډګر کې د ملي لښکر د شهید شوي بیرغچي پر ځای ملي بیرغ په خپله اوږه راپورته کړ او د دې **لنډۍ** په ویلو یې د افغاني لښکر وینې د جګړې په ډګر کې په جوش راوستې.

**که په میــوند کې شهیــد نه شوې　　خدايږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه**

د کابل خلکو د پاڅون په پایله کې د **شېرپور** په سیمه کې د انګرېزانو قواوې کلابندې کړې، تردې چې امیر عبدالرحمن خان **چاریکار** ته راورسېد او انګرېزانو چې خپل ځان یې په تنګسیا کې ولید نو د مجبوریت له امله یې د هغه هرکلی وکړ او نوموړي امیر ځان د پاچا په توګه اعلان کړ. پدې توګه **جنرال رابرتس** کابل پرېښود او امیر عبدالرحمن خان د کابل په ګدۍ کېښناست.

**په ټولګي کې فعالیت:**

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې پر افغانستان د انګرېزانو د تېري په اړه او دویمه ډله دې د میوند د جګړې د پایلې په اړه خبرې وکړي او د خپلو خبرو لنډیز دې ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

**پوښتنې:**

۱- انګرېزانو څه پلمه کړل او په افغانستان یې تېري وکړ؟
۲- د ګندمک تړون په کوم کال کې لاسلیک شو او کومې سیمې د افغانستان له خاورې نه بېلې شوې؟
۳- د میوند د جګړې په اړه لنډ معلومات ورکړئ.

**د ټولګي نه د باندې فعالیت:**

زده کوونکي دې د ګندمک د تړون په اړه د کورنۍ له مشرانو نه معلومات ترلاسه او په ټولګي کې دې بیان کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## حبیب الله کلکانی څرنګه واک ته ورسید؟



په تېر لوست کې مو امان الله خان ته د نرۍ د هېوادونو د مشرانو د هرکلي په اړه ولوستل، په دې لوست کې به د حبیب الله کلکاني واکمنی ته د رسېدلو په څرنګوالي خبرې وکړو.

تاریخ پوهان د دې مخالفتونو لاملونه اقتصادي وروسته والی، د سیاسي او ټولنیز شعور ټیټه کچه، د اماني ټولنیز او اقتصادي اصلاحاتو بهیر، پر دیني عالمانو باندې د مقررې بندیزونه، د کالیو بدلون، چې دا ټول د خلکو د غوسې لامل شو.

**حبیب الله کلکانی** چې د **سقاو زوی** په نامه مشهور دی، د یو شمېر کسانو له خوا یې ملاتړ وشو او حبیب الله کلکاني ته یې د (**خادم دین رسول الله**) لقب ورکړ. همدارنګه ځینو هغو کسانو د حبیب الله کلکاني ملاتړ وکړ، چې له اماني اصلاحاتو سره مخالف وو.

حبیب الله کلکانی په **۱۹۲۹** ز کال (۱۳۰۷ هـ ل) کابل ښار ته راننوت او د نوي جوړ شوي حکومت لپاره یې اعلامیه خپره کړه، چې د فتوا بڼه یې درلوده. د هغه پر او ځانګړتیاوې د امنیت اخلال، د دولتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړي وزير په توګه وټاکه. د نوموړي د صدارت پر مهال يولړ تدريجي بدلونونه رامنځته شول. د دغې دورې ځانګړتياوې د سياسي واک ټينګښت په کورنۍ کې و.

د محمد نادر خان د پاچاهۍ په موده کې، چې درې کاله وه، د هېواد امنيتي حالات مخ په ښه کېدو شول او د مرکزي دولت واک هېواد ته په تدريجي توګه پراخه شو. د هېواد په اداري - دولتي جوړښت کې يوځل بيا هڅه وشوه، چې د اماني ګوند د پلويانو ملاتړ ترلاسه شي، چې له شته حالاتوڅخه خوښ نه وو. د اصلاحاتو د دوام لړۍ په پخه توګه پرمخ تلله.

محمد نادر خان په ۱۹۳۳ زيږديز کال کې د پوهنې د جشن د نمانځلو پر مهال د **نجات** د عالي لېسې يوه کس زده کوونکي، چې عبدالخالق نومېده، ووژل شو.

**په ټولګي کې فعاليت**:

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، لومړۍ ډله دې واک ته د محمدنادرخان رسېدو نه مخکې د هغه مهمو کارونو او دويمه ډله دې د هغې دورې د مهمو ځانګړتياوو په اړه معلومات ورکړي.

**پوښتنې**:

۱- محمد نادرخان د خپلواکۍ په جګړه کې کومه دنده درلوده؟ ويې ليکئ.

۲- محمد نادرشاه ولې د مخورو خلکو د خپلولو هڅه وکړه؟

۳- محمد نادر شاه څنګه ووژل شو؟ ويې ليکئ.

**د ټولګي نه د باندې فعاليت**:

زده کوونکي دې د محمد نادرخان د کورنۍ په اړه له خپلو لويانو څخه وپوښتي او خپل معلومات دې په ټولګي کې څرګند کړي.

اته ویشتم لوست

## د چین یا د نړۍ د تر ټولو زیات نفوس لرونکي هیواد په اړه څه معلومات لرئ؟




لکه څنګه چې پوهېږئ زموږ یوګاونډی هیواد چین دی. مخکې مو د لومړنیو، منځنیو او نوو پېړیو په تاریخ کې له چین سره پېژندګلوي پیدا کړه. په دې لوست کې به د دې هیواد معاصر تاریخ وڅېړو.

لکه څنګه چې په نقشه کې وینئ، چین په شمالي نیمه کره کې د **اسیا** د وچې په ختیځه برخه او د **ارام سمندرګي** په لوېدیځ ساحل کې پروت دی او په نړۍ کې درېیم لوی هیواد دی. د خاورې پراخوالی یې تر نهو میلیونو کیلومترو مربعو څخه زیات دی. د **چین** د سرحدونو اوږدوالی دوه سوه اته ویشت زره اته سوه کیلومترو ته رسېږي. د وګړو شمېر یې د ۲۰۰٦ ز کال د سرشمېرنې له مخې یو میلیارد او درې سوه میلیونو کسو ته رسېدلی و، چې د نړۍ ۲۲ په سلو کې نفوس جوړوي. په دې شمېر کې د **هانګ کانګ** او **تایوان** اوسېدونکي شامل نه دي، چې د چین ۸ په سلو کې وګړي تشکیلوي. پاتې ۹۲ په سلو کې د **خان** (**هان**) نژاد دی چې له پېرو پېړیو راهیسې په دې هیواد کې استوګن دي.

په معاصرو پېړیو کې د **منچو** دولت د **انګلیس** سره سوداګرۍ لره او تر خېړنې لاندې ونیوله د سوداګریزو مقرراتو د نوي کولو غوښتونکي وو. انګلیسانو هڅه کوله چې د نړۍ سره د **هندوستان** له لارې خپلې سوداګرۍ ته پراخوالی ورکړي. نو له همدې امله د انګلیس سوداګرۍ د چین سره په همدغو لاملونو ولاړه وه او اساسي موخه یې د ترياکو سوداګري وه. همدارنګه سوداګریزو اړیکو د چین لپاره ښې پایلې نه درلودې او په ۱۸۴۱ - ۱۸٦۰ ز د ترياکو د جګړې لامل وګرځېد.

**ډاکټر سون یات سن**: چې د نوي (مډرن) چین د پلار په نامه مشهور دی، د چین لومړی ولسمشر و او د **ګومین تانګ** د ګوند مشري یې په غاړه وه، هغه وکولای شو چې د منچو د رژیم وروستی جرړې وباسي او په چین کې جمهوري نظام رامنځته کړي. نوموړي د چین وګړي په پنځو نژادي ډلو ووېشل:

۱- **خان** ۲- **منچو** ۳- **مغولي** ۴- **تبتي** ۵- **خویي**

د چین هیواد پایتخت د **پکن** ښار (**بیجینګ**) دی چې تاریخ یې لرغونو زمانو ته رسېږي او ۳۰۰۰ کلن لرغونی تاریخ لري. دغه ښار ۱۰۰۰ کاله پخوا جوړ شوی دی او اوه پېړۍ مخکې، **قوبلای خان** د پکن ښار د خپل دایمي پلازمېنې په



(c) ketabton.com: The Digital Library

